# د کرنيزو ليسو خبرليک

## کرنيز ښووني د ټولو لپاره

د کابل د اتو ميخانيکي انستيټوټ په سترتالار کې د افغانستان له ګوټ، ګوټ څخه د کرني د ليسو نمايندګان د شوراو ولولو په حالت کې ليدل کيدل اود خپلو لاسته راوړنو، دعکسونو او پوسترونوپه نښلولو، په ژوندي ډول ښودلو، د تخمونو بيلګې، ډول، ډول سبو(سبزيجاتو) او خوراکونو په ښودلو لګيا وو. کتونکو په منظم ډول له يو يوې غرفې بلې په تللو سره ليدنه کوله، يو تن د بدخشان دبهارک انستيټوټ شات څکل، بل به د قاري جاويد د ساده لارښوونو په مرسته د هندي مرخيريو (سمارق) کرنه زده کوله او هم د کابل ولايت د چهار آسياب د کرني دليسې دمديرد سويابين هغه شيدې وڅښلې چې د فارياب د کرني او ويترنری د انستيټوټ لخوا تياري شوې وې. د ننداړتون دافغانستان دکرني دليسود ملي کنفرانس په دويمه ورځ په لاره اچول شوی وو چې د انسان په تنګسه کې ( پن) لخوا، د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي ښوونو معينيت او دکرنيزو ښوونو ملي انس په مرسته په لاره اچول شوی وو.

د هيواد د ۳۱ ولايتونو څخه د ۸۶ کرنيزو ليسو نمايندګانو يوځای کول تريوچت لاندې په داسې درې ورځنې کنفرانس يوه نادره پيښه وه چې تراوسه په افغانستان کې نده ترسره شوې. دا کنفرانس په کرني پورې اړوند مختلفو کسانو لپاره مناسب ځای وو ترڅو دهيواد د کرنيزو مسلکي زدکړو پراړوند مهمو موضعاتو بحث وکړي. که څه هم د نا مالومو دليلونو او د کرنيزوليسو دجوړولو لپاره د سامانونو او وسايلو دنشتون له امله دکرنې دليسو دمديرانو اړيکې شليدلې وې. خو د کرنيزوښوونود رشد لپاره د مسلکي او تخنيکي ښوونو معينيت لخوا هڅې دکرنيزو ليسو د چټک ډيريدلو سبب شويدی. په هرحال د وزارت نقش په ولاياتو کې د مسلکي او تخنيکي ښوونو معينيت دنمايندګانو د دندو مالوميدل، دهغو اړيکې د ولايتونو د ښوونې رياستونو سره او د نمايندګانو همکاري د نوو ليسو سره مهم او ژوند بخښونکی دی. ټول اړوند موضوعي بحثونه د کرني دليسو دفارغينو لپاره د نهايي آزموينو معياري کول او د مسلکي ليسود لا خپلواکه کيدلو په اړوند بحث وشو.


Photo By: Abdul Wasi

دغه کنفرانس د ګډونوالو لپاره يوښه فضا برابره کړې وه ترڅو دوی وکولی شي په پنځو مختلفوورکشاپونو کې ونډه واخلي چې لاندې موضوعاتو ته په ورکشاپونو کې ځای ورکړشوی وو: نظارت اوارزونه، نوی درسي نصاب، دکرنيزو عملي زدکړوميتودونه، د استادانود توانمنديو د انکشاف په لاره کې ننګوني او د پروپوزل ليکنې پرمهارتونو له شوره او شوق نه ډک بحثونه وشول دا ځکه چې د مختلفو ليسو مديرانپه يوټولګي کې سره کښيناستل او خپلې تجربې يې سره شريکې کړې او د هغوننګونو په اړوند يې بحثونه وکړل چې دافغانستان کرني ليسې ورسره مخ دي. دکرنزو ښوونو ملي انستيټوټ په ورکشاپ په اوړدو کې د استادانوشايستګي او لياقت کشف شو، دهغو معيارونو داستفادې په اړوند چې کولی شي د کرني دليسو د استادانوراتلونکی ډاډمن کړي، سوالونه مطرح شول.

دعملي زدکړو ورکشاپ دهغو کتاب د معرفي لپاره يو ښه فرصت وو چې د انسان په تنګسه کې موسسې لخوا تيارشوي دي. دا کتاب د کرنيزو عملي کارونو لارښود دی چې د مختلفو عملي کارونو د ګام په ګام زدکړې يې معرفي کړي دي ترڅو استاد وکولی شي د تدريس په وخت کې ورڅخه کاروا خلي. څرنګه چې د انسان په تنګسه کې(پن) موسسې فعالتونه په ټول ملک کې د پراختيا په حال کې دي او ددې موسسې متخصصين نشي کولی له هرې ليسې څخه ليدنه وکړي اوخپل نظريې او شته اورسره شريک کړي، ځکه دې موسسې د کرني د ليسو لپاره خپل دلارښود ساده کتاب چمتوکړچې د ۱۳۹۲ کال د وري په مياشت کې به يې دکرني دليسو په اختيارکې ورکړل شي همدارنګه دې ورکشاپ د عملي کارونو مهمې برخې چې زده کوونکو ته د تدريس په وخت کې ورڅخه استفاده کيږي، مشخص کړي او د درسي نصاب سره سم د پلانونو د جوړولو مشورې او دعملي کارونو لارښوونې يې برابرې کړې دي.

د فارياب د کرني او وترنرۍ انستيټوټ مديرعزت الله خوشبين ددې کنفرانس اهميت داسې بيان کړ: " دا کنفرانس ځکه په زړه پورۍ وو چې د کرني دليسو ترمنځ يې د يوسم رقابت ټوکولی او دهرې ليسې او انستيټوټ لپاره يې د رشد او پرمختګ چانس برابر کړی او موږ ټولو ته دا شونی شو ترڅو ووينو چې نورڅه کوي" البته دتخنکي او مسلکي معينيتد ښوونځيو د چارو عمومي مدير حسن مبارک عزيزي ونډه اخيستنه پدی کنفرانس کې د ګډونوالو د تشويق او د کنفرانس د برياليتوب تضمين کونکی وو. يو بل احساس چې له دې کنفرانس څخه ترلاسه کيږي هغه دا چې په اطمينان سره به کرنيزې ښوونې په راتلونکي د ټولو لپاره وي.

## سريزه

**د کرنې د ليسو درنو مديرانو، معاونينو او استادانو،**

تاسې په اوس وخت کې د خبرليک لومړۍ برخه لولئ. دا خبرليک د انسان په تنګسه کې موسسې لخوا برابر شوی دی او له هر سمسترڅخه وروسته يو ځل چاپيږي او د ولايتونو د ليسو او او پوهنې رياستونو په اختيارکې ورکوي.

ولې بايد د کرنې د ليسو خبر ليکولرو؟ ددې خبرليک اصلي موخه دکرنيزو ليسو دپرمختګ پرلړۍ خبريدنه او د دليسووصل کول يو له بل سره دی. دا خبرليک د کرنييزو ليسو دجوړولو اوسنۍ پرمختيا، د کرنيزو برياليو ليسو راپور جوړونه او د کرنې د مضامينو موثرتدريس او په زړه پورې نوي مالومات برابروي او په پای کې خبرليک د پوهنې وزارت د مسلکي او تخنيکي ښوونو معينيت، د انسان په تنګسه کې موسسې او دمسلکي او تخنيکي زدکړو معينيت دکرنې دبرخې ملګرو پلانونه اعلانوي. همدارنګه موږ تمه لرو ترڅو ستاسې ونډه، مرستې، تجربې، نظريې او راپوررونه هم پدې خبرليک کې خاي کړو. ددې خبرليک غټه موضوع دکرنې دليسو ملي کنفرانس په اړوند ده. ددې پيښې غتوالي او اهميت ته په کتنې موږ غواړو د کنفرانس لويې پايلې له تاسې سره شريکې کړو پداسې حال کې چې تاسې پدې لويې پيښې کې حضور نه درلود. موږ پدې آند يو چې دا کنفرانس به د ګدونوالو لپاره يوه په زړه پورې او يوه تل پاتې خاطره وي.

د انسان په تنګسه کې موسسې د کرنيزو ښوونو تيم تاسې ته د يوې ښې او الهام بخښونکې مطالعې هيله کوي.

زوزانا پرنيکووا

د انسان په تنګسه کي موسسي د کرني د پروګرام مسوول

# د افغانستان د کرنۍ دليسو ملي کنفرانس انعکاس

ټولوګډون کوونکو په ۵ مختلفو ورکشاپونو کې ګډون وکړ له دې ۵ ورکشاپونو څخه يې ۳ د انسان په تنګسه کې موسسې، يو دکرنيزو ښوونو ملي انسټيټوټ او يو بل يې د پوهنې وزارت د مسلکي او تخنيکي ښوونو دمعينيت لخوا وړاندې شوې. ددې ورکشاپونو لويې پايلې او لنډيز دلته ذکر شوی دی:

### د افغانستان د کرنۍ ليسو لپاره نوی تعليمي نصاب

د افغانستان دکرنۍ ليسو لپاره نوي درسي مواد د انسان په تنګسه کې موسسې او د هالنډ هيواد د ويخيننګ (Wageningen) پوهنتون لخوا پراختيا موندلې ده. په اوس وخت کې د ۳۱ مضمونونو له جملې څخه ۱۰ يې په ازمايښتي بڼه په ۶ کرنيزو ليسو کې تطبيقيږي. دا ټول نوي درسي مواد د تصويب لپاره د پوهنې وزارت د مسلکي او تخنيکي ښوونو معينيت ته ليږل شوي او له


Photo By: Abdul Wasi

تصويب څخه به وروسته به چاپ او د افغانستان د کرنۍ ليسو ته به واستول شي.
ددې درسي موادو په اړوند د ګډونوالو وړانديزونه داسې وو: درسي مواد دې په دواړوژبو( پښتو اودري)، د عملي کارونو تمرين ته بايد په تدريسي لارښود کې ځای ورکړشي، ددرسي موادو د ويش په مهال دې دکرنۍ دليسو

### د انسان په تنګسه کې موسسې لخوا د کرنۍ دليسو لپاره د وړې اهدا Small Grantرقابت پروژې لاسته راغلې تجربې

هغه ټکي چې د پروپوزل د ليکلو په وخت کې په پام کې ونيول شي:
د اوږدې مودې له پلانونو سره د پروپوزل توپير
مبهم هدفونه چې نه واقعي دي او نه د اندازه کولو وړ وي.
وړانديز شوې پروژې بايد دليسې د اړتياوو او ستونزوسره سم وي، په ځانګړي توګه دې تشريح شي چې په ګټه کې څوک شريک دي او څرنګه به له پروژې څخه ګټه اخلي. بوديجه بايد له حقيقي بيو سره سمه وي او د پروژې ټول لګښتونه به په بوديجه کې شامل وي.

### د کرنۍ دليسو د استادانو لياقت او وړتيا لوړول: ننګونې او کړنې

د استادان په ګومارلو کې د مديرانو په وړاندې ننګونې
د کمو وړتياوو او لياقت لرل ( يوازې د انسټيټونو فارغان) يا د فني پوهې نشتون.
د تدريس يا پيداګوژی د تجربې نه لرل
لرې ساحو ته د استادانو د نه تللو ستونزه
په يوه وړه ليسه کې له پنځو مضمونونو زيات د تدريس مکلفيت، پکارنده.

### د کرنۍ په ليسو کې عملي زدکړه: تګلارې او فرصتونه

دکرنۍ عملي زدکړه څه ده او ولې مهمه ده؟
پايلې: دکرنۍ مسلکي ليسې زده کوونکي بايد خپل لاسونه په ګرد او خاوره ککړ کړي او که نه يو ريښتونی مسلکي به نه وو. عملي کارونه يوازې د ښوونځي په نمونه يي کرنيزې ځمکې پورې نه محدوديږي بلکه له


Photo By: Abdul Wasi

ساحې څخه کتنه، علمي سفر او د پروسس له کمپنيو يا کلينيکونو څخه کتنه وشي. همدارنګه په لابراتوارونو کې تمرينونه، د ښوونځي له باندې څخه د بيلګو راوړل، په ګدانونو کې د ګياوو کرل، کوم متخصص ته بلنه ورکول- داټول په عملي زدکړو کې امکان لري. هره ليسه به دعملي زدکړو پلان برابروي، چې دا ټول فعاليتونه په هغو کې بيان شي. دعملي کارونو کتاب چې د انسان په غربت کې موسسې د متخصصينو پواسطه برابرشوی دی او د راتلونکي کال له نوروزه مخکې دکرنۍ په ليسو به وويشل شي. له ويش څخه مخکې، ددې کتابونو د پيژندلو لپاره به د ليسو ښوونکو ته يو ورکشاپ ورکړ شي ترڅو هغوی وکولی شي د کتاب موضوعات په درست ډول

### د مسلکي او تخنيکي ښوونو معينيت په ليسو کې نظارت او ارزونه:

د مسلکي اوتخنيکي ښوونو معينيت ټيم د نظارت او ارزونې ورکشاپ ترتيب کړی وو ترڅو واضح کړي چې نظارت او ارزونه ترکومه حده دمسلکي اوتخنيکي زدکړې لپاره مهم دي او د نظارت او ارزونې ترمنځ توپير څه دی.


Photo By: Abdul Wasi

# دکال ۲۰۱۲ د کرنیزو لسیو ملي کنفرانس پنځه وتلي او ګټونکي

د افغانستان دکرنې ټولو لیسوته دا چانس ورکړ شوی ووځو خپل دیو کال لاسته راوړنې ننداړچیانو ته وښیي او هغو خپلې لاسته راوړنې په ډیر ښایسته ډول پدې ګرځنده ننداړتون کې ځای پرځای کړې. هرڅوک ازاد وو ترڅو خپله رایه خپل د خوښې ننداړتون ته ورکړي. د انسان په تنګسه کې موسسې هڅه کوله ترڅو زیات مالومات برابر کړي، نو ځکه د انسټیټوټونو مسوولینو دخپلو انسټیټوټونو په اړوند لاندې مالومات وړاندې کړل:

| | د کابل د کرنې او وترنرۍ انستیتوت | د بلخ د کرنې او وترنرۍ انستیتوت | د هرات د کرنې او وترنرۍ انستیتوت | د فاریاب د کرنې او وترنرۍ انستیتوت | د سمنګان د کرنې لیسه |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| د تاسیس کال | 1336/1957 | 1355/1976 | 1355/1976 | 1355/1976 | 1389/2010 |
| د زدکونکو شمیره | مجموعه ۱۵۰۰<br>هلکان : ۱۱۷۰<br>نجونې : ۳۳۰ | مجموعه : ۶۵۰<br>هلکان : ۶۲۰<br>نجونې : ۳۰ | مجموعه: ۶۴۳<br>هلکان : ۴۵۸<br>نجونې: ۱۸۵ | مجموعه : ۵۰۹<br>هلکان : ۴۹۷<br>نجونې :۱۲ | مجموعه : ۳۵۵<br>ټول هلکان |
| د خپلې لیسه د عملی کارونو ۳ ډولونه لست کړی؟ | * کرنه او دحاصل تولونه (لیرو ، رومي بانجان ، ګازرې او نور) غلې (سویابین ، مغزلرونکي او نخود)<br>* د غوا ، پسونو او شاتو مچیو روزنه<br>* د زراعتي فعالیت لپږدول لابراتوار ته او د خاورېPH او د خاورې دځانګرتیاوو پیژندنه | * د منو د ونو پیوند او تولید د څاڅکو په واسطه اوبه کول او د ملچ جوړونې سیستم<br>* د حیواناتو (چرګ او پسه) د اندامونوسیرنه<br>* د میخانیکی مهارتونو زدکول او د تراکتور د ماشین کارول | * د(رومي بانجان ، کچالو ، تور بادنجان او نوروکرنه او حاصل ټولونه<br>* د حیواناتو (چرګ او پسه) د اندامونو سیرنه د مرضونو پیژندنه د مایکروسکوپ کارول در میکروبونو او حجراتو پیژندلو لپاره | * د خاورې د ډولونو پیژندنه<br>* د نیالګیو کښنول او روزنه (شفتالو ، منه او زردالو) په باغونو او شنو خونو کې<br>* کرل او د حاصل ټولول د( پیاز ، د ځمکني توت، ګلپي او نور) | * د څاڅکو په واسطه اوبه کولو د سیستم کارول<br>* د غنمو او سبو د کرل<br>* د مایکروسکوپ څخه د حجرات د پیژندلو لپاره کار اخیستل |
| د راتلونکي کال لپاره څه پلان لری؟ | د عملی کارونو او د مالدارۍ د تطبیق لپاره د ۲۰ جریبه ځمکې اخیستل | د انستیتوت دځمکې اضافه کول ۴۸۷ جریبو ته دپورې د تدریسي او لابراتوار د خونود جوړولوپیل | د استادانو ټاکنه او د حیواني کلینک جوړونه | د مشورې ورکولو پیل او د وترنرۍ دځانګې دتداوي د کیفیت لوړوالی دکبانود روزنی او د عملی کارونو زیاتول | د چرګانو د فارم جوړول او د ماشینونو لپاره د سیورې جوړول |
| تر ټول ښه لاسته راوړنه مو څه ده (یو بیلګه وښایاست) | * د ۴ نوی دیپارتمنتونو جوړول<br>* باغداري<br>* د نباتاتو ساتنه<br>* ځنګلداري<br>* مالداري | د اوبود ذخیرې جوړولو دعملي کارونو لپاره او د یو نمونه یي ځمکې جوړول | د انټرنیټی خدماتو برابرول ټول ټولګیولپاره | ایجاد ګلخانه به اندازه 30 7x متر<br>د شنې خونې جوړول د ۳۰ x ۷ مترو په اندازه | د څاڅکو په واسطه د انګورو د باغ او د سبو د ځکمې اوبه کول |
| تر ټول مهم شی چې ستاسي لیسه ورته د پرمختیا لپاره اړتیا لری څه ده؟ | د کرنې د عملې کارونو او مالدارۍ لپاره د ۲۰ جریبه ځمکی لاسته راوړل | د کرنیزو ماشینونو او وسایلو لاسته راوړل | د تجاربو نه شتون د زراعتي فارمونو او حیواني کلینکو لپاره | د تدریسي او د زدکونکو د اوسیدو ځایونو نه شتون | د لیسي د چاپیره دیوال جوړول |


Photo By: Abdul Wasi


Photo By: Abdul Wasi

# راځئ چې د کرنې سره خبرې وکړو

مونږدکنفرانس په لړ کې له څو ګډونوالو سره مرکې درلودې ترڅو د کرنې پر تودوموضوعاتو زیات پوه شوو. لاندنې مطلبونه ولولئ ترڅود افغانستان له هغوکرنیزومحصولاتو سره آشنایي پیداکړئ چې ډیرعاید لري.

## انجنیر محمود شاه د هرات د کرنی او وترنری انستیتوت مدیر

**د کنفرانس کومه برخه تاسوته ډیره په زړه پورې وه؟**
د ننداړتون برخه ماته ډیره په زړه پورې وه، ځکه مونږ دومره وس نه لرو ترڅو ټولو ولایتونو ته سفر وکړو اوخپل تجارب له نورسره شریک کړو دا زمونږ لپاره یو ښه مناسب مهالوو ترڅو د نورو لیسو تجربې له نږدې څخه و ګورو.

**د دی کنفرانس نه مو څه زدکړل؟**
ماته د کرنېزو لیسو دمدیرصاحبانو په منځ کې همغږی ډیره په زړه پورې او د یادونې وړ وه. دکرنې ټولو لیسولپاره چانس وو تر څو خپلې نظریې دنور لیسو سره شریکې او د نورو نظریې په خپلو لیسو کې وکاروي.

**تاسې غواړې په آینده کنفرانس کې کومو موضوعاتوته ځای ورکړی چې پدې کنفرانس کې شامل نه وو؟**
د انسان په تنګسه کې موسسې څخه غواړم چې په نورو کنفرانسونوکې بزګرانو ته هم بلنه ورکړی ځکه چې بزګران د کرنی په عملی کارونو کی ډیرتجربه لری. بزګران کولی شی ترڅو خپلېهغه تجربې او مهارتونه چې په یوکال او په مختلفو اقلیمونو کې یې د نباتاتوله کرنی ترلاسه کړي، د ګډونوالو سره شریک کړي.

**په کرنیزو ښوونو کې ستاسو قوې او ضعیف ټکي کوم دي؟**
زمونږ قوي ټکید کرنې په برخه کېد مجربو استادانو شتون دیځکه چې زده کوونکیله دوی څخه زدکړه کوي خوشاله دي. او زمونږ ضعیف ټکي دادي چې مونږ پرمختللي وسایل او ماشین آلات نه لرو او دا د لیسو لپاره اړین دی.

**ولې کرنیزې ښوونې د افغانستان لپاره مهمې دي؟**
دخوړو ښه خوندیتوب، په ځان بسنه او د کاري فرصتونه پیدا کول په هیواد کې ضروري دي. زه پدې باوري یم چې دا ټول په کرنې پورې اړه لری.

## فرهاد موحد د بلخ ولایت د دولت آباد دکرنیزلیسی مدیر

**د کنفرانس کومه برخه تاسولپاره ډیره په زړه پورې وه؟**
ټول ورکشاپونه ماته ډیره په زړه پوې وه اوهمدارنګه ننداړتون هم ډیر ښه وو، ټولو کرنیزو لیسه وکولای شول چې خپل فعالیتونه او تجربې د نورو سره شریکې کړي. زمونږ لیسه تر اوسه یو نوې تاسیس شوې لیسه ده دنورنه مونږ زدکوو او ملاتړ کو اوخپل فعالیت ته پرمختګ ورکوو.

**کوم ورکشاپ ډیرګټور وو؟**
دپلان جوړولو اوپروپوزل لیکنې ورکشاپزما لپاره ډیر ګټور وو، ځکه چې ما زده کړل چې څه ډول وکولی شم د خپلې لیسې اوسنی حالت تمویل کونکوته وړاندې کړم او د پروپوزل لیکنې تخنیکي برخه مې هم دلته زدکړه.

**تاسې غواړې په آینده کنفرانس کې کومو موضوعاتوته ځای ورکړی چې پدې کنفرانس کې شامل نه وو؟**
په عمومي ډول د کنفرانس وخت د فعالیتونو او تجربو د شریکولو لپاره ډیر کم وه، غواړم په راتلونکي کې دې کنفرانس ته ډیر وخت ورکړل شی.

**ولې مو وغوښتل چې د کرنېد برخې ښونکی شې؟**
په دوو دلیلونومی وغوښتل چې د کرنې ښونکی شم : د وطن د پرمختګ او دوهم د مناسب عاید لپاره.

**د انسان په تنګسه کې موسسې د کرنیزو ښوونو پروګرام په هکله څه فکر کوی؟**
زه د انسان په تنګسه موسسې څخه ډیره مننه کوم. دوی ماته د پروپوزل لیکنې مهارت را وښود، ترڅو وکولای شم یو ښه پروپوزل برابر کړم ددغه مهارت څخه په ګټه پورته کولو ما وکولای شو چې خپل مکتب ته ۱۲۰۰۰۰ زره افغانی په لاس راوړم او په دغو پیسو ما خپلې لیسې ته ۶۰ پایی چوکی ، یو لپ تاپ کمپیوتر او د عملي کارونو لپاره سامان واخلم.
اوهم انسان په تنګسه کې موسسې د ظرفیت د لوړولو ورکشاپ اودتعلیمی نصاب دپراختیا لپاره یې مرستې کړې دي.

*مونږ د افغانستان د سرو زروپه باره کې چې زعفران دي ډیرشیان واوریدل!*

## روحینا غفوری د هرات ولایت د مسلکي او تخنیکي ښوونو معینیت استازی

**د دی کنفرانس نه مو څه زدکړل؟**

زه ډیرخوشحاله یم ځکه چې پدی کنفرانس کې مې د تریاکو او چرس څخه هیڅ وانوریدل ، ددې پرځای ما د افغانستان د سرو زروپه باره کې چې زعفران دي ډیر شیان واوریدل.
ټولو د زعفران چای خوښ کړل، که چیرې مونږ د زعفران کرنه پیل کړو زه پدې سل په سلوکې باور لرم چې د مخدره موادوستونزې او نورمشکلات حل شي.

**تاسې غواړې په آینده کنفرانس کې کومو موضوعاتوته ځای ورکړی چې پدې کنفرانس کې شامل نه وو؟**
هیله لرم چې په راتلونکي کنفرانس کې د ښځو ګډون ډیر وي.

**د انسان په تنګسه کې موسسې د کرنیز ښوونی پروګرام دکړنو په هکله څه فکر کوی؟**
په ریښتیا غواړم چې انسان په تنګسه کې موسسې کی یو کارکونکی اوسم، ځکه چې دایوه د هغو ښو موسساتو له ډلې څخه ده چې په افغانستان کی موثرې کرنیزې پروژې تطبیقوي.


Photo By: Abdul Wasi

# ستاسې د موضوعاتوپه اړوند بحث

د کنفرانس په دریمه ورځ، ټول ګډونوال په ستر تالار کې سره راټول شول ترڅو دهغو موضوعاتو په اړوند چې دوی یا دخپلې علاقمندی، یا د ننګونو د د له منځه وړلو اویا دضرورتونوله امله په ګوته شوي وو، بحث وشو.
**څرنګه باید سهولت ګر شو، څلور ګروپي بحثونه:**




**I. د مسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت استازي په پوهنې ریاستونو کې:** د پوهنې وزارت دریفورم په وسیله دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت استازي په ولایتونو کې تعیینیږي. ددې بحثونو موخې په لاندې ډول دي: په ولایتونو کې د نویواستازو د دندې روښانول، دهغو اړیکې د پوهنې له ریاستونو سره او دکرنې لیسې له هغو څخه څه هیلې لرلی شي. دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت د کاري لایحې سره سم ددې استازو رول په لاندې ډول دی: د لیسو او مرکزترمنځ د مناسبو اړیکو لپاره دآسانتیاووپیدا کول. البته ددې استازو دندې دا ندي چې دلیسومالي تخصیص کې بدلون راولي او استادان وګوماري مګر کولی شي خپلې نظریې دمرکز له مقاماتوسره شریکې کړي ځکه چې دوی دپوهنې ریاست ترامرلاندې دي. دپوهنې وزارت دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت لویه توقع له خپلو استازو څخه داده چې وکولی شي ښه نظارت کړي او د مسلکي لیسود اوسني وضعیت معینیت ته روښانه کړي.

**II. د نوو کرنیزو لیسو جوړول:** دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت دکرنیزولیسود سریع زیاتیدلو څخه حمایت کوي او د تیرکال په پرتله کرنیزې لیسې دوه برابره شوې دي. دکرنې دلیسو آمران غواړي پوه شي چې د کرنې دلیسو دپرمختیا ځایي ستراتیژي څه ده، دنویو لیسو د جوړولو لپاره وزارت څه معیار ټاکلی دی. د کرنې لیسې د جوړیدلو پرمهال د تجهیزاتو له کمښت سره مخامخ وي پدې ډول د کرنې دلیسو د جوړیدلو سره سم دکم ترکمو تجهیزاتو شتون اړین دي. دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت استازي د کرنیزولیسو دفارغینواهمیت دهیواد د کارموندنې په مارکیټونوباندې ټاکید کوي چې دا پخپله د نویو لیسود جوړیدو لامل کیږي. د معینیت لخوا دا وعده شوې وه چې په راتلونکي ښوونیزکال کې دلیسو د وړاندیزونوسره سم به دتجهیزاتو او وسایلو په اړه پلوي زیاته شوې ده.

**III. د کرنیزو لیسو د فارغینو لپاره معیاري ازموینه:** د کرنې دلیسوآمرین، د کرنې دلیسو

> **”په راتلونکي ښوونیزکال کې دلیسو د وړاندیزونوسره سم به دتجهیزاتو او وسایلو په اړه پلوي زیاتیږي“- دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت**

فارغانو لپاره دمعیاري ازموینې اړتیاوې اړین بولي ځکه فارغان لدې لارې دکرنې پوهنځي ته لاره مومي. د کرنې دلیسو دفارغینو څخه د عمومي ازموینې اخیستل د دوی په ګټه نده دا ځکه چې د کرنې دلیسو زده کوونکي په عمومي مضامینوکې لوړپس منظر نه لري. پدې باره کې د دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت مسوولینو روښانه کړه چې پدې اړوند د لوړوتحصیلاتو دوزارت هوکړې ته ضرورت دی او پدې اړوند دوزارتونو ترمنځ خبرې رواني دي.

**IV. دکرنې لیسو ته دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت لخوا د صلاحیتونو ورکول:** د کرنې ټولو مسلکي لیسو لپاره دزیاتو آزادیو لرل حتمي دي ترڅو په راتلونکي کې فني مسلکي کسان وروزي. په دې برخه کې توجه دې ته وه چې ولې ازادي اړینه ده او نوی سیستم په څه ډول تطبیق شي. آمرین د په کارګومارلو، د عوایدو په تولید کې، د منابعو څخه د ازادې استفادې اود پروژو په تطبیق کې د پروپوزل د ورکولو صلاحیت غوښتونکي دي. دوی پردې تاکید کوي چې د صلاحیتونو زیاتول د ستونزو په حل کې مرسته کوي او دعملي زدکړوفرصتونه زیاتوي. دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت اوس د صلاحیتونو دسپارلو په چوکاټ کارکوي. د غوښتل شوو مسوولیتونو (دکارکوونکوپه کارګومارل) به تردیره په ولایتونو کې دمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت د استازو او(مالي مسایل، دعاید دتولید کارونه اونور) دلیسو د مالي کمیټوسره شریک شي.


Photo By: Abdul Wasi


Photo By: Abdul Wasi

# ډیر ژر!

* **دانسان په تنګسه کې موسسي به خپل لکچرنوټونه په دري ژبه بیا چاپ کړي** او دکرنې په هغو لیسو به یې دنوي ښوونیزکال له پیله مخکې وویشي چې هلته په دري ژبې تدریس کیږي. دا اته مضمونونه به دکرنې د ښوونکو لپاره درسي مرستیال مواد وي چې لاندې سرلیکونه به پکښې وي: غلې، دغواوروزنه، ایکولوژي، کرنیزنباتات، دنباتاتوساتنه، ځنګل ساتنه، مالداري او د پسونو او وزو زورنه او د په پښتو ژبه لکچرنوټونه به په ۱۳۹۲ کال کې چاپ شي.

* **کم ترکمه معیاري تجهیزات** د انسان په تنګسه کې موسسي لخوا دکرنې دلیسو لپاره په ۴ برخوکې تیارشوي چې: عملي کارونه، کتابونه، میزاوچوکۍ او د آی ټي سامانونه دي. د تجهیزاتو له پکیجونوڅخه به ۲۹ دکرنې لیسې برخمنې شي. دلابراتوار وسایل به دمعیاري تجهیزاتو پنځمه بسته یا پکیج دی اوپښتو کتابونه به په راتلونکي کال کې دکرنې دلیسو لپاره تیارکړی شي.

* **د کرنې د عملي کارونولارښود کتاب** دانسان په تنګسه کې موسسې متخصصینو لخوا پراختیا موندلی دی او د هغه د پیژندنې ورکشاپ به دکرنې دلیسو ټولواستازو ته د راتلونکي کال په پسرلي کې ترسره شي.

* **د کرنې دلیسو لپاره نوی درسي نصاب:** نوي مرستیال درسي مواد د ۴ مضمونونو لپاره چې په ایکولوژي، دپسه او وزې روزل، دکبانو روزنه/ دشاتو دمچیوروزنه او د ګیاوو پتالوژي باندې شامل دي په راتلونکي سمستر کې د کرنې په ۶ لیسو کې په ازمایښتي ډول تطبیق شي او د۴مضامینو لپاره درسي پلانونه(د ځنګل ساتنې اصول، باغ روزنه، دخاورې پیژندنه اوغواوروزنه) دینه مخکې دکرنې په ۶ لیسوپه ازمایښتي ډول تطبیق شوي اودمسلکي اوتخنیکي ښوونو معینیت ته به د تصویب لپاره ورکړل شی.



Photo By: VLADIMIR INEK, People in Need

د انسان په تنګسه کې موسسه د ۲۰۰۱ کاله را پدېخوا په افغانستان کې فعالیت لري، هرچیرې چې دبشرپالنې اړتیا احساس شوې، دې موسسې دخپلو پرمختیایي پروګرامونو په مرسته هغو ته ځواب ویلی دی. نن ددې موسسې کړنې د پکتیا، ننګرهار، بغلان، بلخ، سمنګان ولایتونو اوهمدارنګه د کابل او مزارشریف د دفترونوپه واسطه رواني دي. اوس مهال دېن موسسه د ځینو مهمو مالي مرسته کوونکوپه حمایت په یوشمیر بنسټیزو برخو لکه: ښوونه اوروزنه، دکلیو پراختیا او بیړنیو مرستو تمرکز کړی دی.

د خبرلیك د چك جمهوریت د انکشافی مرستو په مالی لګښت او د انسان په تنګسه کی موسسی لخوا چاپ شوي دی.